ليکوال : سراج الحق ببرک زی ځدران

۲۰۱۰/۰۱/۰۸م

# د پرمختللي کماليستي ترکيې جمهوريت
# پان ترکي اسلاميزم او سېکولريزم

سريزه:

تورکان په مرکزي اسيا کې تر لسمي پېړۍ پورې ساده کوچې ژوند درلود اود ښارويو په روزنه کې بوخت وو. په لسمه پېړۍ کې دوی دسلجوقيانو او مغولو له خوامجبورکړل شول خپله سيمه التي اودالتې غرونه پرېږدي. د يارلسمه پېړۍ په پيل کې دوی په اناتوليه يا کوچني اسيا کې په ننني مورنې هيواد ترکيه کې را ښرگند شول. د عثماني امپراتوري تاريخ هم له همدې مهاله پيل شو. عثماني امپراتوري چې په ۱۴۰۰ ع کال کې د ترکي له کوچې قومونو څخه جوړه شوې وه، په ډيره لنډه موده کې په ۱۴۳۳ ع کال کې يې استانبول و نيوه. په ۱۵۱۶ ع کال کې سوريه او مصر ان تر مراکش پورې ورزغځيده. په اروپا کې عثماني ترکي امپراتوري تر هنګري، رومانيا، يوګوسلاويه تر ايټاليې او سويلي روس پورې ورسيده. دوه ځله په ۱۵۸۳ او ۱۵۲۹ ع کال ترکانو د اطريش پلازميه وينا لاندې کړه. ترکيې جمهوريت ورسته له همدې امله هم دناټو په غړيتوب کې ونيولې شوه،تر څو بيا اروپا ته ګواښ نه شي .

په ۱۹۲۳ کال د اکتوبر مياشت په ۲۹ نېټه د ترکېې مډرن جمهوريت بنسټ د مذهب او دولت ترمنځ دبيلتون سياست پر بنسټ د لومړنۍ نامتو ولسمشر مصطفی کمال له خوا کيښودل شو. دې د ترکيې په تاريخ کې د اتاتورک يا د تورکانو پلار په نامه يادېږي. اتاتورک عملاً عثماني امپراتوري ته د پای ټکې کيښود .له همدې مهاله په ترکيه کې د اسلام مبين دين او د دولت اړيکې په يوه نوې بڼه سره تنظيم شوې دي.

د ترکيې دولتونو سياسي تاريخ ډير په زړه پورې تاريخ دی. هېڅ کوم بل اسلامي هيواد سېکولريزم او لوديځ تمدن ته دنږديوالي لار په دومره مسلسل ډول نه ده تعقيب کړي لکه د ترکيې جمهوريت. نوې دولت له بنسټه تر ۱۹۶۰ کالونو پورې يو مخ پر وده هيواد ګڼل کيدو. ترکيه نن په نړيواله سوداګريز کچه يو خورا مهم هيواد دی . دناټو مهم غړې هيواد دی، اروپايي اتحاد ته د ورګديدو نږدې کانديدهيواد دی. د اسلامي نړی يوځواکمن، ولسواک، باثبات او مخکښ هيواد دی.

ترکيه د اروپا او اسيا ترمنځه يو ځمکني پل جوړ وي ،د ختيځ او لوديځ ستره ډړه ده. د ترکيې هيواد ۹۷ ٪ خاوره په اسيا يا اناتوليه کې او درې سلنې خاوره په اروپا کې ده. ترکيه په سياسي،اقتصادي او پوځې ډګر کې ځان په اروپا کې ګڼې . د اروپايي ټولنې هېڅ کوم بل هيواد اروپايي اتحاد ته د ورګديدو دومره انتظار نه دی کړي لکه د ترکيې هيواد. د ۱۹۸۹ کال څخه را په ديخوا ترکيه اروپايي ټولنې ته د وورګډيدو پرلپسې غوښتنه او تمه لري . ترکيه په اروپايي اتحاد يا ټولنه کې تر ۲۰۲۰ ع کال پورې هېڅ چانس نه لري . تر څو چې تورکان په کلتوري او ټولنيزه کچه ځان اروپايي نه کړي . د۲۰۰۹ کال ددسامبر په مياشت کې ترکيې يوځل بيا د اروپايي ټولنې له مشرتابه څخه اروپايي ټولنې او شينګن تړون ( ۱) ته دورګديدو غوښته وکړه .

دکماليزم دوکټورين بنسټيزه کړنلاره اروپايي هيوادو ته د ورګيدلو تګلاره جوړوي . همدا کماليزم بيا اروپايي ټولنې ته د ورګديدو يولوی خنډ ګرځيدلي دی .کماليستي سيکولر جمهوريت د لوديځ ارزښتونو او اروپايي ټولنه ته د روګديدو معيارونه لکه ولسواکې، دبشرږښتونه ،د لږکيو رښتونه،مذهبي ازادي او داسي نور حقوق د ترکيې هيواد په دننه کې تر پښو لاندې کوي . د کماليستي پرنسيبونو ساتونکې وسله وال پوځ په ترکيه کې څو واري پر منتخبو حکومتونو باندې په پوځې کودتاوي لاس پوري کړي دی .

سېکولريسته ترکيه تل لوديځوالو سياسي کتونکو ته د اسلامي نړۍ يوه پره دې له اثرارو ډکه ډړه يا دروازه او لږ څه ګواښمن هيواد ښکاريدلې دی .

دغه هيواد دوه مخونه لري، له يوې خوا دوديزه او ډير خوار له بلي خوا مډرن او لوديځ پلوه هيواد دی .اسلام په دواړو خواو کې مهم رول لوبوي . ترکيه په اسلامي نړۍ کې يو خاص ډول اوفورم د دولت رامنځته کړي دی .

لوديځ د ترکيې لوديځ پلوه سياست او ستراتيژيک موقعيت ته خاص پام کوي . لکه توري بهيره ته د ورتلو لار کنټرول، له پخوانې شوروي اتحاد سره پلوله، په ساړ جنګ کې دناټو لپاره يو خاص ځانګړې ځای درلو د . په ۱۹۶۰ کالونو کې د اروپايي هيوادو د سوداګريزو چارو ښه ملګرې هيواد و، په ۱۹۸۰ کال کې ترکيه ښه اقتصادي پرمختک وکړو او د صادراتو کچه يې ډيره لوړه شوه . ترکيه ته د نړۍ سيلانيانو ور تګ چې دعايداتو يوه خورا مهمه سرچينه ګڼل کيږي او اټکل ۹ميلونه تورکان په اروپا کې په کاروبار بوخت دي . درې ميليونه يې په المان کې د ۱۹۶۰ کالونو څخه دميلمه کار ګر په توګه کارکوي ، دوی اوس د نورو بهرنيانو په پرتله له لمسيانو او کړوسيان



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

سره ښه منظم کلتوري ترکې اروپايي ژوند لري . تورکان خپلې تولې ګټلې پیسي په تورکیه کې په ګټه اچوي . د دغې اسیا اروپايي هیواد په اقتصادي،ټولنيز او سیاسي واده کې ستره ونډه اخیستې ده .
موږ افغانانو ته د ترکيې هیواد تاریخ له تاریخې، مذهبې، کلتوري اړیکو ورته والي سره پټ پاتې شوي دی .

## ۱. دکمالیزم او نېشنلیزم تاریخي رېښي

کمالیزم د ځوان ترکې ملي دولت بنستیزه ستن بلل کیږي. نېشنلیزم د ترکې دولتي سیستم له دوکټورین څخه ګڼل کیږي،دکمالیستي پرنسیبونو د پلې کولو لپاره له پوځې ځواک څخه هم کار اخیستل کیږي . د ترکې جمهوریت بنسټ د مذهب او سیاست تر منځ پر بیلتون ولاړ سیاست دی . په ډیرو اسلامي هیوادو کې دد اسي سیاست تصور ا صلاً نه کیږي . د ترکيې لپاره دا یو انقلابي سیاست دی . د اتاتورک دغه سیاست د اسلامي دود دستور او د اسلامي نړۍ سره یو ډول پریکون و . ترکې دولت یو شمیر بدلونونه په هیواد کې پلې کړل له هغې جملې څخه یوشمیر مهم بدلونونه دا دي . د اسلامي کلیزې پر ځای له نړیواله عیسوي کالیزې څخه کاراخیستل ،د سویس مدني قانون، د ایټالي او فرانسي جزايي قوانین پلې کول ،د اسلام مقدس دین یې د دولتي مذهب په څیر لغوه کړو،دښځو لپاره د ټاکنو رښته،دیوې ښځې سره واده او د لاتین ابیڅې رواجول وو.
تر ۱۹۴۵ کالوپورې په ترکیه کې یو ګوندیزه سیاست د اتاتورک جمهورې غښتوونکې ولسي ګوند په واک کې و،په څنګ کې یو وفاداره وسله وال پوځ ولاړ و . د پوځ دنده ده چې دترکيې اساسي قانون او د نېشنلیستي پرنسیبونو پر بنسټ د کمالیزم ساتنه وکړي . د کمالیزم مفکوره په ترکیه کې دولتي دوکټورین منل شوي . شپږ بنسټیز ه پرنسیبونه یا ارزښتونه د دولت ایډ یالوجۍ جوړه وي .
هغه مهال ټول ریفورمونه د کمالیزم ایډیالوجۍ پربنسټ رامنځته کیدل . داسي فکر کیدو چې اسلام نوې ځوان جمهوریت ته ګواښ دی . په ۱۹۳۱ کال کې دغه ریفورمونه دمصطفی کمال د یوالي ګوند په کړنلاره کې ولیکل شول. په ۱۹۳۵ کال کې دغه پرنسیبونه د دولت دوکټورین وګرځیدو او په ۱۹۳۷ کال کې په اساسي قانون کې تصویب شول .
داسي مالومیدو چې په کمالیزم کې اسلام ته هېڅ ځای نشته .عجیبه داوه چې اسلام د ترکيې د ملي کلتور یوه برخه او دملت په اجنډا کې جوت رول لرلو .بیا کمالیزم د اسلام په نامه دعثماني امپراتوري څخه پاتې شوي ګڼ شمېر مسلمان توکمه ولسونه لکه کردان،قزاقان،البانیان،بوسنیایان،تاتاران او نور قومونه ټول د یو تورک ملت په نامه سره یومټي کړو .

## ۲. د کمالیزم شپږ بنسټیزه متې په لاندې ډول دي .

۱.نېشنلیزم :دیو ترکې ملي دولت بنسټ ایښودل و، مذهب نه بلکې ترکې کلتور او ژبه باید خلک تورکان کړي .
۲. سېکولریزم : په مذهب نه ولاړ دولت یا د مذهب او دولت ترمنځ بیلتون ته ویل کیږي، له همدې دولتي فورم سره لا مذهبه ترکیه د اسلامي ټولنې څخه ووتله .
۳ . جمهوریت : دیو جمهوري غوښتونکې اساسي قانون د ولس استقلالیت ،خپلواکې او قانوني عدالت دټولو وګړو ترمنځه مساوي تظمینول دي . په مذهب نه ولاړ جمهوریت د یو جمهوري غوښتوونکې دولت بنسټ ایښودل و، چې ورسره سلطنت او خلافت ته شاه واړه و ل شوه .
۴ . محبوبیت : د ټولو وګړو سره د مساوي حقوقو ویش پر ته له قومي ، ژبني او مذهبي توپیر څخه .
۵ . حیتایزم : د دولت ستره دنده د هیواد په اقتصادي وده اوپرمختګ کې اودهیوادپر اقتصاد باندې دولتي انحصار لرل دي .
۶ . انقلابي ریفورمونه : لودیځ ته په کتوسره دولت او ټولنې ته په سیستماتیک ډول سمون او فورم ورکول دي .
د ترکې جمهوریت په تاریخ کې دغه پرنسیبونه ډول ډول وزنونه درلود. اماد کمالیزم اصلي نښانه ټولو تورکانو ته نېشنلیزم او په مذهب نه ولاړ جمهوریت دی .کمالیزم بیا د پوځ له خوا تظمین کیږي اوپر خلکو منل کیږي .

## ۳. د ترکې مډرن جمهوریت دبنسټ تاریخ

دنن نه ۱۲۹ کاله وړاندې د عثماني امپراتوري دیونان په سالونوکې ښارکې یو هلک د مصطفی په نوم وزیږدو . د پوځې زده کړو څخه ورسته ده بیا د خپلو لاسته راوړنو له امله د ترکيې ولسي جرګې له خوا دمډرن ترکې دولت دپلار نوم وګټلو . د اتاتورک یا د کمالیزم ایډیالوجۍ بنسټ یو مډرن ترکې جمهوریت د عثماني امپراتوري په پاې کې رامنځته کول و . له هغه مهاله چې ترکیه خپل فورم اخیستې دی تر ننه پورې د کمالیزم پرنسیبونه په اساسي قانون کې لومړیتوب لري . د تورکانو دخپل منځي پوهاوي او ملي ویښتیا لپاره برخلیک ټاکونکي پرنسیبونه دي .
په ۱۹۱۸کال د اګوست په ۳۰ نېټه عثماني امپراتوري،، د مودروس Mudros اوربندټرون ، د لومړی نړیوالې جګړې ګټونکو سره لاس لیک کړواو تسلیمه شوه، چې ورسره یې د زیورز Severs ( ۲ )سولې تړون لاسلیک کړو . له همدې سره د اسلامي امپراتوري پای رامنځته شو. سلطان د امن اونظم راوستولو او مات شوي پوځ دبیرته راټولو لپاره جنرال مصطفی کمال اتاتورک یې اناټولیي ولایت ته ولیږلو . ده نه یواځې پوځ را ټول کړو بلکې له همدې مات او پاشلې پوځ سره ده په وسلوال مقاومت لاس پورې کړو . دپوځې ځواک سره ولسي ملي مقاومت


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

غورځنګ یي  هم منظم کړو . دی د همدي غورځنګ د کمیټي مشر وټاکل شو . په ۱۹۱۹ کال کي دغه کمیټه  د انقرې په ښار کي میشت  شوه . د ۱۹۲۰ کال د اپریل په میاشت کي داستانبول ولسي جرګي د منحل لیدو په غبرګون کي  تورکانو ملي جرګه په انقره کي  راوبلله . دی د ملي غورځنګ دسیاسي مشرتابه ترڅنګه د پوځي برياو سره مخامخ شو .
په ۱۹۱۹ کال کي  ده د ارمنیانو بیلتون غوښتونکي هڅي مخه یي ونیوله . په ۱۹۲۱ او ۱۹۲۲ کالونو کي یونانیانو ته سخته ماته ورکړه . بلاخره همدغه  ازادی ښنونکي  پوځ  په ۱۹۲۲ کال کي استانبول ښارته ننوت .
دمصطفی کمال  سخت مقاومت  په جګړه کي نور شامل ځواکونه یي مصالحه  ته مجبوره کړل  . د لوزانه  سولي تړون  (۲ ) د ترکیه پولي وټاکلي او د ترکيي استقلال په رسمیت وپیژندل شو، له هم دي سره د ترکي جمهوریت دبنسټ لومړنی ډبره کیښودل شوه .
په ۱۹۲۳ کال د اوکتوبر ۲۹ نیټه ترکي جمهوریت وزیږیدو . لومړنی ګوند د ځوان  ترکي جمهوریت   جمهوري غوښتونکي ولسي ګوند و. ګوند د ترکیي په سیاسي او ټولنیز سیستم کي ریفورمونه راوستو،دغه ریفورمونه  د کمالیستي کلتوري انقلاب په نامه هم یادیږي . د دغي بنسټیزو ریفورمونو یوه برخه  د ژبي ریفورم  او یو ملي تاریخ رامنځته کول وو . د خلافت دولت ځخه  یو سیکولر دولت دیو نوي  سیاسي ،حقوقي سیستم سره رامنځته شو.  اسلام د جمهوریت لپاره یو خنډ لیدل کیدو. له همدي امله ډیر شمیر نوي قوانین او مقررات  داسلام  سپځلي  دین د پځولو لپاره رامنځته شول .
- په سترو مذهبي غونډو اومجلسونو باندي  بندیز ولګول شو .
- له ۱۹۳۴ کال ځخه تر ۱۹۴۷ کاله دحج  شریف زیارت منع شو .
- له ۱۹۳۳ کال ځخه تر ۱۹۴۸ کالو پوري مذهبي لوړ ي زده کړي په پوهنتونو کي   رسماَ شتون نه درلود .
- ټکري  او اسلامي حجاب په رسمي دوایرو کي منع شو . د کالیو ستیل یا ډول  لودیځ ډوله  شو .
- وادونه چي یواځي داسلامي قانون پربنسټ ترسره شوي وه، په قانوني ډول  غیر قانوني شول اوپه رسمي ادارو کي نه منل کیدل .
- دعثماني امپراتوري اسلامي مرکز په موزیم واړول شو . له همدی سره ترکیه د خپلو  ۹۹ ٪ مسلمانو وګړو سره اسلامي نړې او  ټولني ته شا واړوله او لودیځ ته  یي مخه کړه .
د دغو ټولو مقرراتو موخه دا وه چي ملي ترکي هویت ځواکمن  او ورسره  مذهبي هویت کمزوری  شي .
په دوهمه نړیواله جګړه کي متحدینو او متفقینو دترکیه  پر دولت فشار راوړلو او ګواښونه یي ورته وکول،هر یوه غوښتل چي  ترکیه له ځانه سره   په جګړه کي ملګري کړي .اما ترکيي دولت خپل ناپیلتوب په دغو  ډیرو سختوشرایطو کي وساته او د یو ملي ناورین مخه یي   ونیوله  .

## ۴. ترکي پوځ  او  سیاست

پوځ د ترکیه په سیاسي سیستم کي پر ټولو ځواکونوباندي برلاسي ځواک دی او دترکيي په سیاسي سیستم کي تل لاسوهنه کړي ده . د ترکي جمهوریت  په تاریخ کي په مستقیم ډول په ۱۹۶۰ ، ۱۹۷۱ او په ۱۹۸۰ کالونو کي  په سیاست کي لاس وهنه کړي ده . غیرمستقیم په ۱۹۹۷ کال کي د نجم الدین اربکان حکومت یي استعفا ته مجبوره کړو . په ۲۰۰۷ کال  د ولسمشری په ټولټاکنو کي   عبداله ګل ته د پوځ له خوا  او  د کودتا ګواښ وشو  .           په ۲۰۰۸ کال کي د AKP.  ا ،ک ، پ  یا دعدالت او پرمختګ ګوند پرووړاندي د منع علانولو قضایي دعوا پیل شوه ،چي ورسره یوشمیر جګپوړي افسران هم بندیان شول . ځکه پوځیانو له دوی ځخه کمالیزم ته ګواښ محسوسه وه  . دا د سیکولرو او اسلامي محافظه کارانو ترمنځ  د سیاسي مبارزو واک او ځواک  پرسر زور ازمیل دي . تاریخ ته په کتوسره  دپوځ  خاص رول  دترکیه په سیاست کي ان په عثماني امپراتوري کي ریښي لري .  دعثماني امپراتوري د لمنځه تللو سره مصطفی کمال اتاتورک دملي خپلواکي جګړي په ترڅ کي د ترکي جمهوریت بنسټ  کینښود . پو ځ ملي یوالي،دجمهوریت امنیت ساتلو او دکمالیزم  دسیاسي پرنسیبونومیراثي مدافع  وکیل ګڼل کیږي . ترکي پوځ په ترکیه کي یو  ډول  پوځي ولسواکي پر مخ بیایي .
په ۲۰۰۸ کال د اوکتوبر په میاشت کي د مختلفو انسیتیتونو په  یوه سروې  او ټولپښتنه کي چي د( پیا              ) Piar T S M  موسسي (۴ ) له خوا تر سره شوي  بنیي ، دترکیي په دولت کي د ترکيي وسله وال   پوځ ۸۹،۹ ٪ خلکو ته یو اعتباري منل شوي اورګان دی .
په دویمه ځای کي پولیس ۷۱،۱  ٪  بنودل شوي، له دی نه ورسته داساسي قانون محاکم    ۶۶،۰ ، ولسمشر  ۵۳،۸ ٪ ، لومړي وزیر ۴۲،۶ ٪  د ټولو نه ورسته  دسیاسي ګوندو ځای  د ترکیي په ټولنه کي راځي چي  په ټولیزه توګه بدي اخیستونکي ، د واک  وګړي، او بی اعتباره انځور په ټولنه کي لري . په ټولیزه توګه د رایو انځور  ته په کتو سره ویلي شو،دغي سیاسي حالاتو ولسواکي ودې  ته  یو ژور خنډ او فکتور ي توکي رامنځ ته  کړي  دی .
پوښتنه دا ده چي  پوځ ځه ډول رول د ترکیه په  سیاسي  او ټولنیزو چارو کي لري .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو  همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

د ترکيه د جزاقانون په ۱۵۹ ماده کې داسي ليکل شوي ، پوځ ته د توهين يا سپکاوي په صورت کې سخته جزا ټاکلې شوي ده .په بله مانا پوځ د حکومت په منځ کې بل حکومت دی .
په دې ورستيو کې د ترکيه لوی درستيز تور ولګاوه چې واکمن اسلام پلوه ګوندAKP ا. ک .پ . د دولت او مذهب ترمنځه دبيلتون پرنسيبونه ترپوښتنې لاندې راوستي دي . تر دې مخکې پوځ د ترکيې بيا اسلامېزېشن ګواښ کړي و . په دې اړه دحکومت په يو غبرګون کې وويل شول ،چې لوی درستيز د ولسمشر تر قوماندې لاندې دی . په بروګسل کې د اروپايي ټولنې ،، کميسار اولي رهين ،، د پوځ دخبرو په غبرګون کې په يوه نيوکه کې وويل ، مهمه دا ده چې پوځ د ولسواکې پر مقرراتو او لوبه باندې ځان پوه کړي ،دا مقررات او پرنسيبونو د ترکيې په اروپايي کيدو کې د زړه ټوټه بلل کيږي .
په ۲۰۰۹ کال د اپريل مياشت په پنځلسمه نېټه د تر کيې لوی درستيز هلکر بسبوک په لومړی ځل د کردانو هويت ومانا او اسلام ته د ا. ک. پ . ګوند د نږديوالې ځخه خبرې وکړې ،ورسره يې حکومت ته په ورو يو ګواښ ورولېږلو . ده وويل ، ډليزه رسنې خبرې اوري خو په هماغا الفظوکې دوې ويناوې اوري . زه وايم چې پوځ هېڅ وخت د مذهب مخالف نه و. بسبوک د وينا پر مهال څوواري خپل سر د ترکيې اسلامي هويت ټولنې ته ټيټ کړو . ده زياته کړه ، د پو ځ دنده ده چې هر څوک خپل مذهبي مراسم ولمنځي او هېڅ څوک حق نه لري مذهب سياسي کړي .
دا د ترکيې پوځ نه بدليدونکې نړيوال انځور دی . پوځ په دوديز ډول د سياست کنټرولر ځان پېژني .
پوځ په ورستيو ۴۵ کالو کې څلور منتخب حکومتونه دکودتا له لارې رنګ کړي دي .
په ۲۰۰۸ کال د مارچ په ۳۱ نېټه د ترکيې داساسي قانون محکمې د حکومتي ګوند ا. ک. پ . پر وړاندې د منع کولو قضايي دعوا پرانيستله . د دعوا اصلي ټکې داسي و، د ا.ک.پ . ګوند هڅه کوي چې دولت اسلامي شي . لويه څارنوالی دعوا وکړه چې د ا. ک.پ ګوندبايد منع کړل شي او د ۷۱ سياسي چارواکو سره د لومړی وزير د رجب طيب اردوګان او ولسمشر عبداله ګل فعاليتونه بايد منع اعلان شي . د ترکيه په تاريخ کې څو څو واري ځواکمن اسلامي ځواک او اسلامي ګوندونه رامنځته شوي دي، تر څو دکماليستانو سره مقابله وکړي . پو ځ مداخله کړي او سېکولريزم يې بيرته په ځای کړي دی .

## ۵. مذهب او سيکولريزم

اسلام په ترکيه کې داسي تعريف شوي ، اسلام ترکي دی يعنې د ترکي کلتور يوه برخه ده .
په ترکيه کې ليځيزم يا ددولت اومذهب ترمنځ د بيلتون سياست داسي نه عملي کيږي لکه فرانسوي انقلاب چې د د ولت او مذهب بيل والي تعريفوي . په ترکيه کې ليځيژم په دې مانا دی چې دولت مذهب له سياسي فعاليتو څخه منع کړي ( ۳) . هغه سياسي فعالتونه چې د دولت پروړاندې او يا دولت کمزوري کوي ،په سېکولريزم کې د دولت او مذهب ترمنځه اړيکې يو ډول رسمي اړيکې دي . مذهب سياسي کنټرول کيږي تر څو چې مذهب سياسي نه شي . ترکيه يو لامذهبه يا سېکولر دولت لري . ټول توركان لامذهبه خلک نه دي .يوه برخه بنسټپال سيکولر او بله برخه بنسټپال اسلامپال دي .
د ترکيې د مذهبي چارو وزير محمد ايدين يوه نوې خبره کوي چې د ولسواکې بنسټيزه ارزښتونه بايد مذهبي بنسټونه ولري . ولسواکې بايد په اسلامي هيوادو کې اسلامي ريښې ولري .( ۴)
د مذهبي چارو وزير وويل ،په ترکيه کې دهغې پېر پای رارسيدلي دی چې مذهب دولت ته اړ و . له همدې سره دمذهب او دولت ترمنځ دبيلتون سياست ته دنوې سياسي کلتور په خپره ولو سره دپای ټکې اېښودل کيږي .
په مذهب نه ولاړ دولت کې مذهبي ملي ګوندونه رامنځته شول . په ۱۹۷۰ کال کې نجم الدين اربکان د ملي سلامتي ګوند بنسټ کيښود. دوی له بهرځخه يو بل ډول اسلامي دولتي موډل غوښتلو ،نه دغه نا اسلامي ترکې سيستم . په ۱۹۹۰ کال کې بيا د رفا ګوند دځپل شعار لمخه ، ټولو ته دعدل نظام اونظم تر نامه لاندې برې ته لاره ومونده او د۱۹۹۶ کال ولسي جرګې ټاکنې وګټلې . دغه ګوند د عدل نظام په اسلامي دولت کې لټه وي او نورو بياويل، چې له دې سره کماليستي دولتي پرنسپونه تر پوښتنې لاندې را ځي . لومړی وزير اربکان خپل لومړې سفرونه ليبيا، ايران ته ترسره کړل او داخواناالمسليمين ګوند له غړو سره يې وګتل . د رفاه ګوند دولسي جرګې يوي غړې هڅه وکړه، چې له ټکرې سره ولسي جرګې يا پارلمان ته ننوځي . دټاکنو کمپاين پر مهال زرغون بيرغونه ښوريدل او د سيکولريزم پای شعارنونه ورکول کيدل . په ۱۹۹۷
کال کې د فبروري په ۲۸ نېټه پوځ په واضع ډول د رفاه ګوند په سياست کې مداخله وکړه او اعلان يې وکړو چې اسلاميزم هيواد ته يو لوی ګواښ دی . د همدې ګوند څخه بيا د ا.ک .پ .د عدالت او پرمختګ حاکم ګوند د رحب طيب اردوګان په مشرې رامنځته شو .
په ۱۹۹۶ کال د جولاې په مياشت د کماليستي ترکيې په تاريخ کې په لومړی ځل يواسلامي بنسټپاله، نېشنلت ګوند پيل وکړو چې ددغې هيواد تاريخ وټاکې .
په ۲۰۰۲ کال د نوامبر مياشت په دريمه نېټه ا.ک .پ .د نوې اسلامي سياست له لارې د ولسي جرګې ټاکنې يې په حيرانوونکې ډول وګټلې او واک يې ترلاسه کړو . رجب طيب اردوګان او عبداله ګل د ګوند بنسټ اېښودونکې په


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

هیواد کي کمالیستي ایډیالوجی ته په خپل سیاست کي ځاي وکړو .د شعاري حرکتونو مخه یي ونیوه . دا ګوند اوس ځان ولسي محا فظه کارګوند معرفي کوي لکه په المان کي واکمن مسیعي دموکرات اتحاد ګوند.
رجب طیب اردوګان پخوا د شپاړلسو میلیونو ښار استانبول ښاروال په توګه اسلامي سمبولیکي پروژي پلانونه طرحه او پلي کړي و، لکه یو سترجومات د تقسیم په سیمه کي،دیو لودیځ ډوله کلتوري ژوند مرکز جووول، پر شرابو خرڅولو لږ څه بندیز او داسي نوري پروژي .
په ۲۰۰۹ کال کي د فارین پالیسي اخبار ښاغلي اردوګان یي د روان کال د سیمي او منځني ختیز له ښو اومخورو سیاسي مشرانو په نامه وټاکه . د فارین پالیسي رسنی چي د امریکا دبهرني سیاست په اړه خپریږي . ،د ترکیي لومړی وزیر یي دنړیوالي دیپلوماسي او ستراتیژي یو لوی لوبغاړي وبله . اخبار د اردوګان په اړه داسي لیکي، اردوګان کوم نوی سیاسي چاروکی نه دی ، دی اوس د منځني ختیز د سیاست او ډیپلوماسي اصلي لوبغاړي دی .
ترکیه عملاً د اسرایلو سره له پخوا څخه ستراتیژیک ملګرتوب لري . دااړیکي د ساړ جنګ پر مهال زیږیدلي دي . ترکیه او اسرایل دواړه د امریکي سره د پخواني شوروي اتحاد پروړاندی متحد وو. اردوګان مجبور شو په همدې سختو شرایطو کي خپل مخالفت د اسرایلو سیاست د غزې په اړه دمنځلار مسلمانانو په منځ کي وښي . دبېلګي په توګه د سویس د داووس ښار په غونده کي اردوګان د اسرایلو ولسمشر شیمون پیرز سره د نړیوالو رسنیو مخ ته دغزی د ۲۲ورځني جګړي څخه ورسته په شدیده توګه لفظي ګوزارونه وکړل . په سیمه کي د ده د محبوبیت له لاملونو څخه ګڼل کیږي .
د ا.ک .پ . حاکم ګوند اروپایي سیاست پرکورني سیاست او دولتي ارزښتونو باندي اغیزه کړي ده. چي نه دودیزه اسلامي ګوند رفاه او نه کلاسیک کمالیستي سیاست ته ورته والي لري . ا .ک .پ . ګوند او حکومت په دې ورستي یو کال کي دترکیي سیاسي سیستم له بل هر وخته اروپایي شوي دی . پر نړیوالو لاسلیک شویو تړونو باندې عمل کیږي ، قضایي سیستم ریفورم ترسره شو، د شکنجي مخه نیول شوي ده ، ټولنیز بدلونونه رامنځته شوي دي . د ا.ک.پ .سیاست د پوځ په اړه داسي دی چي دوی صبر کوي ترڅو په پوځ کي دکمالیستي پرنسیبونو ساتونکي جنرالانو متقاید کیدو سره خپل خلک ورو ورو په پوځ کي ځای پر ځای کړي . د ترکیي په سیاست کي د کمالیستي نښتلیزم پوهاوي او د ترکي ژبي کلتوري هژمونیزم چي دهیواد ملي یوالي سمبول دی له سره پرې بیا کتنه شوي ده .په دولتي تلویزیون کي کردي خپروني پیل شوي دي .کردي ژبی ته اوس په ښوونځیو کي اجازه شته او په کردي ژبه ځایونو ته نومو نه ورکول هم پیل شوي دي .
د ترکیي په سیاست کي اوس ډیره سخته مبارزه د نوی عثماني پان ترکیزم اسلامي بنسټپالو او کمالیستي سېکولاریستانو ترمنځه پیل شوي . دا به تاریخ ثابته کړي چي په ترکیه کي کومه یوه خوا به په یوویشتمه پیړی برلاسي شي .
دامریکي د بهرنیوچارو یو وزیر دترکیه په اړه په مثبت اند وویل، ترکیه یو ډیر ښه پرمخ تللي اسلامي هیواد دی . د ترکیه ولسمشر سیزار چي څو ورځو مخکي له دندي ګوښه شوي و،په غبرګون کي په سختو ټکوکي وویل ، ترکیه یو اسلامي هیواد نه دی ،بلکي ترکیه په مذهب نه ولاړ یو هیواد دي .
ترکیه د اروپا لپار نه د امریکي لپاره مهمه ده . که ترکیه د اروپا یي ټولني څخه وشړل شي ،یوه اسلامي ترکیه به ترنه جوړه شي . امریکا له همدي امله پر اروپایي ټولني له خپلي اغیزي څخه کار اخلي . تر څو ترکیه په اروپایي ټولنه کي برابره ومنل شي اود یو اروپایي غړي هیواد په څیر ورسره چلند وشي .

ترکیه امریکي ته یوه نه ډوبیدونکي د جنګي الوتکووړونکي بېړی ده . ترکیي د ۱۹۴۵ کال څخه راپدخوا په ناټو کي دساړ جنګ په پېړکي له ۶۰۰۰۰۰ مېړه په مډرنو وسلو سمبال پوځ سره مهم رول لوبولي دی . په اقتصادي کچه د کسپین په سمندرګي کي اټکل ۱۵۰ میلیارده بیرله اومه تیل شتون لري، چي دنړی له سترو زیرمو څخه ګڼل کیږي .امریکایي کمپنیو ته ډیري مهمي زیرمي دي . دتیلو پایپ لاین له باکو څخه دکسپین بهیري ته ورڅیرمه د ترکیي تر کیهان بندره پوري په ترکیه کي له نورو پایپ لاینونو سره بهیږي .

دامریکي له خوا په افغانستان باندې د امریکي هوایي بریدونه په پنځویشتمه ورځ هوایي بمباریو ته نوره هم زور ورکړل شو . ورسره ډیرو ډلیزورسنیو خبر ورکړو چي امریکي په انقره کي له ترکي حکومت څخه وغوښتل چي ترکي سرتیري او افسران د شمالي ټلوالي دتقویه لپاره د طالبانو پروړاندې ورواستوي . د NTV ټلویزیون خبر ورکړو چي دهغه مهال لومړی وزیر بولنت هیویت خپله کابینه د مشورې لپاره راوغوښتله، ترڅو د امریکي غوښتنه وڅیړي . د CNN ټلویزیون بیا خبر ورکړو چي له انقرې څخه د مثبت ځواب زیګنال راغلي دی . ترکیه له ډیرو مودې څخه د شمالي ټلوالي سره په تیره بیا له بدنامه ملیشایي جنرال دوستم سره چي په جنګي جرمونو تورن دی نږدې اړیکي لري .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

## ۶. پان ترکیزم او سیکولریزم

لهځیزم د دولت او مذهب ترمنځ دبیلتون سیاست ته وایي او سیکولریزم یا په مذهب نه ولاړ سیاست ورسره تړلي دی . سیکولرریست دولت باید په عامه چارو او ژوندانه کې مذهبي سمبولو منع کړي ، د مذهبي ټولنو سره مرسته بنده کړي ، وده او ساتنه یې هم ونه کړي .

ترکیه په اسلامي نړۍ کې یو خاص فورم د دولت رامنځه ته کړي دی .لویدیځه نړۍ ترکیه په بل ډول ګوري ، هغسې نه ورته ګوري لکه ګاونډي هیوادونه سوریه ، عراق اواسلامي نړۍ ورته ګوري . ترکیه نه یواځې په سیاسي ډګرکې له اروپا څخه کاپي کوي بلکه په تمدوني موډل کې هم له لویدیځه کاپي کوي . ترکیي په خواد ناټو سویلي جبهه جوړه وله ،د پخواني شوروي اتحاد په لمنځه تللو سره دغه جبهه نوره نشته . ترکیه له همدې وجهې اوس په یو سیمیزه ځواک بدلیږي . ځکه د مرکزي اسیا په شپږ جمهوریتونو او په نور هیوادو کې لږه کې ترکي ولسونه اوسیږي .ځني ترکي لږه کې په سوریه،عراق،ایران او له سلګونو کلونو څخه لږ په افغانستان کې شتون لري .

د ترکیه دغه جیوپولیتک موقیعت او ترکیي قومونو ته په کتوسره لکه عربي ټولنه یا نړۍ او پان عربیزم ډول ځان ته غوره کوي ،له همدې امله موږ کولي شو د ترکي نړۍ څخه خبرې وکړو. دغه سیمه دبلقان څخه نیولي تر چین جمهوریت شمال لویدیځ پورې رسیږي . د ترکانو له خوا ورته ختیځ ترکستان ویل کیږي . د چین په کسنینګ ولایت کې اټکل اته میلیونه مسلمان تورکان ژوند کوي . دغي نړۍ ته اټکل ۱۶۰ میلیونه ترکي ولسونه ورګډیږي . د یونسکو په حواله دوی دنړۍ په پنځمه ژبه باندې خبرې کوي . د

ترکیي د پان ترکیزم ایډیا سره د دوی اروپایي پلوه سیاست لا ژوندي دی، ترڅو چې اروپایي ټولنه ترکي دولت ته په ګټه تماميږي . دوی به اروپایي پلوه سیاست ته دوام ورکړي . ځکه لاتر اوسه د ترکي دولتونو ترمنځه دغي مفکوری ته جوړجاړي رامنځته شوي نه دی . دپان ترکیزم ترکي دولتونه ازربیجان ، قزاقستان، ترکیه ،کرغیستان ،ترکمنستان ،اوزبکستان او شمالي قبرص هیوادونه دي .

د ترکانو همدا توکمیزه ،کلتوري اړیکي په مرکزي اسیا کې د یو نوي جیوپولیتک راتلونکي سره تنظیموي . کمالیستي ترکیه ورو ورو د لویدیځي نړۍ څخه بیلوي .

باید ویره نه شي چې ترکیه اوس د روس سره په مرکزي اسیا کې په رقابت بوخته ده . د روس او ترکیې ترمنځ سیاست دبوسنیاپه جګړه کې یوه بیلګه وه .کتونکي په دې باوردی چې ترکیه د بلقان څخه مرکزي اسیا ته ډیر پام کوي . عثماني میراث اوس په نوې اسلامي بنسټپال عثمانیزم بدلیږي ،دغې موخې ته اسلامي او کمالیستي وتلي روند اندي کار کوي . دوی هغه پخواني عثماني امپراتوري د ترکي ولسونو څخه رامنځ ته کول غواړي . له دغې پان ترکیزم څخه ایران او عربي هیوادونه په ویره کې دي .

په ۱۹۹۱ کال د سپتمبر په میاشت کې دقزاقستان ولسمشر نظر سلطان نظرباې یوف په انقره کې دیو رسمي سفرپه ترخ کې وویل ،یوویشتمه پیړی د ترکانو پیړی ده، د دې احتمال شته چې ترکي ولسونه یو متحد ترکیستان رامنځته کړي . ( ۶ )

ان په ۱۹۸۴ کال کې د نړیوالو چارو کارپو ښاغلی ل .کارل برون ،ویتیله چې منځني ختيځ یو core state هستوي یا منځړي هیواد ته اړتیا لري . چې دغه سیمي سره راټوله کړي . دی لیکي ترټولو غوره کاندید چې دغه دنده ترسره کړي د ترکیه هیوادی ( ۷ ). اوس موږ وینو چې کمالیزم ترکي جمهوریت یې دختیز باد پروړاندې وقایه نه کړو .

چا چې د سمویل هنګټون کتاب دتمدونوټکرپه نامه لوستي وي ،هغه پوهیږي چې دی په دې نړیوال نوی نظم کې هر یو تمدن ته یو منځړي یا مورني هیواد اړین بولي . اسلامي تمدن نن کوم هستوي هیواد نه لري . هنګټون ترکیه ته دا مشوره ورکوي چې دا دنده واخلي (۸ ) . ترکیه به ترڅو د اروپا دروازه ټکوي او سرتيټي به بیرته راځي . اوس کمالیستي ترکیه د اروپایي ټولني او پان ترکي اسلامیزم ترمنځه ولاړه ده .

په ترکیه کې ډیر اسلامیستان اوس یو مذهبي دولت د عثماني امپراتوري په چوکاټ کې له ترکي ولسونو څخه غواړي . ډیري تورکان چې په کلیوالي سیمو او ښارونو ته نږدې اوسیږي د ۷۰ کلن کمالیستي جمهوریت سره دوی په خپل اسلامي دودیزه ژوند باندې ټینګ ولاړل خلک دي . د دوی له خوا سیکولاریزم او لیځیزم پرنسیبونو ته تر ډیره بریده اتیهستي یا نعوذباالله د خدای (ج ) شتون څخه مخ اړول په مانا کتل کیږي .

## ۷ . د ترکیي لږکیو ربښتونه یا حقوق

د نولسمي پیړۍ څخه را په دې خوا ډیر مسلمان توکمه ګروپونه ننني ترکیه ته کډوال شول .د جمهوریت له بنسټ اینودلو سره د ۱۹۲۳ نه تر ۱۹۹۱ کالونو پورې رسمي احصا ییو ښيي اټکل ۱،۶۵ میلیونه وګړي ترکیه ته کډوال شوي دي . دترکیه په ۷۰ میلیونه وګړو کې ۴۷ توکمه ، ژبي او مذهبونه شتون لري ( ۱۰ ) .

په ترکیه کې ۵۵ میلیونه تورکان، ۱۵ میلیونه کردان اوسیږي . له ۸۰ تر ۸۵ سلني پورې سني مسلمانان او ۱۵ تر ۲۰ سلني پورې الویتن یا شعیګان ژوند کوي ( ۱۱ ) .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

**یادونه**: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

سره له دومره ډېرو لړکيو توکمو او مذهبونو ترکيه يواځي هغه لړکي په رسميت پېژني کوم چي په ۱۹۲۳ کال کي د لوزانه په تړون کي ياد شوي دي . هغه يهود، ارمنيان او يونانيان دي . ترکي مامورين وايي چي د لوزانه تړون پر بنسټ يواځي نه مسلمان وګړي په ترکيه کي لړه کي دي .له همدې سره ترکيه په ميليونو الويان يا شيعه ګان او بل ستر ۱۲ ميليونه توکم کردان په رسميت نه پيژني . رسماً دلوزانه په تړون کي نه مسلمان لړکي لکه يهود، ارمنيان او يونانيان پيژندل شوي دي .
لړه کي په مسلمان او نه مسلمان باندې ويشل شوي دي . د يوملت ټکي د ترکيه په تاريخ کي لکه يوه سره کرښه ايستل شوي ده . ځومر نيکمرغه دی هغه چي په ترکيه کي ځان توركي بولي . داد ترکي دولت او ولس ترمنځه يو منل شوي اصل دي . توركان ځان په ترکيه دولتي ولس پيژني .
کردي موراو پلار چي خپل ماشومان په کردي نومونو نوموي ، دهيواد تجزيي ګواښ په تور قانوناً مجازات کيږي . دوی بايد ترکي نومونه پرماشومانو کښيږدي . له ۱۹۸۴ کال څخه د ترکيه په سويل ختيځ کي د کردانو کارګر ګوند د خپلواکي لپاره وسله واله جګړه پيل کړي ده . ترکيي يوه ډير ناوړه ځپله جګړه د کردانو د پ .ک.ک. يا د کردانو کارګر ګوند PKK پر وړاندې پر مخ بيايي چي تراوسه د ۴۰۰۰۰ څخه ډير مړي او له يوميليون څخه ډير کډوال لري . ترکيه،امريکا او اروپايي ټولنه پ .ک.ک. يوه ترهګره ډله پيژندلې ده .
کردان د ترکيه په ستراتيژيکو سيمو کي ژوند کوي د د وی سيمې دتيلو او اوبو ډيري زيرمي لري . د نړۍ خورا انرژي لرونکو سيمي دي . کردان په ايران او شمالي عراق کي له مخور لړه کبو څخه دي . دوی ،خپلواک کردستان لپاره وسله واله مبارزه کوي . د ډيرو ترکي سياست پوهانو او پوځيانو په اند د هيواد يوالي او کماليستي ميراث ته ستر ګواښ رامنځته کړي دی . د ترکيه په سويل کي له همدې امله جګړه روانه ده . د ۱۹۹۰ ع کال څخه را په ديخوا ترکيي په مسلسل ډول نړيوال قوانين ترپښو لاندې کړي . لکه په کردستان اود عراق په خاوره کي دکردانو پروړاندې پوځي عمليات تر سره کول دي .

د ترکيه د جزا قانون په ۳۰۱ ماده کي داسي ليکي شوي دي . هره يوه ګوتنيوکه د ترکيي پر موسساتو باندې يو جنايي جرم ياعمل دی او هغه سړي به د حبس پر جزا محکوم شي، څوک چي دا عمل ترسره کړي . ډير ليکوال او روند اندي د همدې مادې پر بنسټ محکمې ته درول شوي دي .
ترکي کماليستي جمهوريت له بنسټ څخه تر ننه داسي بنې چي د دوی په خاوره کي د ملتونو پوښتنه نشته . په ترکيه کي يو ملت شته او هغه تورکان دي . ترکيه د لړه کيو ربنتونو اوساتني له کبله له دوو خوا تر فشار لاندې ده . له يوي خوا د لړه کيو ډلو او د بشري ربنتو سازمانو د ريفورمونوتر فشار لاندې ده او له بلې خوا له بهره د نړيوالو کنوانسيونونولاسليکولو او په ځانګړي ډول په ۲۰۰۵ کال د اروپايي ټولني د ورګډيدو شرايط پلي کول دي .
د اروپايي ټولني ارزښتونه لکه انسان ته درناوي ، خپلواکي،ولسواکي،ټولنيز عدالت،دقانون دولت،دانسان او لړه کيو ربنتي ساتنه،دبيان ازادي ،د توکميزه توپير پر ته ،پيوستون او دبنځي اوسړي مساوي ربنتي دي .
په ۱۹۲۴ کال د مارچ په دريمه په خپله کمال اتاتورک په ټولو کردي ښوونځيو کي کردي ژبه منع کړه .
د ترکيي کورني ګرکيچونه زښت دير دي لکه بې روزګاری د ۲۰ ٪ په شاوخوا کي ده. په ځانګړي ډول د کردانوګرکيچ دی . دترکيه هيواد له برازيل هيواد څخه ورسته يواځني هيواد په نړۍ کي دی چي له IWF څخه ۳۰ ميليارد امريکايي ډالرو پورړولي دی .
ترکيه له ديرشو کالو څخه د يونان سره د قبرس پر سر لانجه لري . ترڅو چي دا ګرکيچ دوام لري ، يونان به ترکيي ته د اروپايي ټولني ورګډيدو يو لوی خنډ ګرځي . ځکه دټولني هر يو غړی کولی شي د نوی غړي په اړه د ويتو حق يا ربنته څخه کار واخلي ، يونان د اروپايي ټولني غړي هيواد دی .
۸. لنديز
ترکيه نن يو هيواد دی چي د دوو کلتوري کړيو له خوا ولکه شوي دی . له يوي خوا اروپا له خپل سياسي ، اقتصادي ځواک سره له بلې خوا دعربي هيوادو اغيزه سره مخامخ ده . ترکيه د اتاتورک تر مشري لاندې له عربي او اسلامي هيوادو څخه بيله شوي اواروپا ته يې مخه کړي .دغه لاره اوس تورکانو ته ډيره ګرانه شوي ده .
د اروپايي ټولني مشران داروپايي ټولني په اړه په خپلو کي لاتر اوسه په يوه خوله شوي نه دي . بني اړخه ګوندونه اروپايي ټولنه د عيسويت د ارزښتونو يوه ټولنه يا دمسيحيت کلوپ تعريفوي . کيڼ اړخه ګوندونه اروپايي ټولنه يوه سياسي اقتصادي ټولني په ډول پيژني . داروپايي بني اړخه ګوندونو په پرتله کيڼ اړخه ګوندونه ترکيه ته لږ خندونه مخ ته کوي .دبېلګي په ډول په سويزرلنډ کي بني اړخه ګوندد جوماتو پر منارو بنديز لګول، چي دوی ادعا کوي مناري د اسلامي ځواک نښي په اروپا کي دي . بنې اړخه مسيحيان په اروپا کي د مسلمانانو سره توپيري چلن هم کوي .
نتني ترکيه د ۱۹۸۰ کالو ترکيه نه ده . په ترکيه کي ستر ستر ريفورمونه داداري فساد پروړاندې پلي شوي دي .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په خير و لولئ

له ۱۹۹۹ کال څخه په ترکیه کې د اعدام جزا په قوانینو کې لغوه شوي ده . په ۲۰۱۰ کال داستانبول ښار د اروپاکلتوري ښار په نامه ونومول شو .
ترکیه اوس دیوبدلون په خلور لاري کي ولاړه ده. مسلمان هیواد ترکیه دنوی عثماني اسلامي پان ترکیزم اوکمالیستي سیکولاریزم ترمنځ ،ترکیه د اسلامي بنسټپالواو دویزه اسلامي منځلارو ترمنځ، ترکیه د اسلام او لودیدځ ترمنځ ، ترکیه د اروپا او امریکي ترمنځ ولاړه ده . په ترکیه کي د دغوبرخلیک ټاکونکو اړخونو ترمنځه توده مبارزه روانه ده. ترکي دولت مشران او سیاست پوهان په ډیر احتیاط سره له دغي حساسی څلورلاري څخه د تیرریدو په حال کي برییني . تورکان دکمالیزم ایډیالوجی سره ورو ورو خدای په اماني کوي .
تورکانو خپل ننۍدولتي فورم ، دولت داري او دهیواد سولي ته ستري سیاسي قرباني ورکړي دي، د عثماني امپراتوري پر مهال د منلي شوي سلطان تول وروني ، دتره زامن او نور داسي کسان چي ترکي امپراتوري ته یي ګواښ پیښ کاوه د سلطان مخ ته به وژل کیدل . سلطان ته به له ترکي توکم څخه نه بلکي له نورو توکمونو څخه واده کیدو،ترڅو ترکي امپراتوري ته دسیاسي واک پرسر نوي کړکیچونه رامنځ ته نه شي . سلطان باید یواځي او یواځي حکومتي نظام اود امپراتوري وسعت او ساتني ته پام وکوي .
د اتاتورک سیاست او کمالیستي پرنسیبونو د تورکانو اسلامي احساس ډیر سخت ژوبل کړي، توریالي ترکي ولس سره له دې مذهبي ژوبل احساس دوی د دولت پروړاندي په وسله وال مقاومت لاس پوري نه کړو. په ترکیه کي اوس ترکي نیشنلیزم د ترکي اسلامیزم سره څنګ په څنګ په ډیرو برخو کي لاس په لاس په ګډه مخ پر بره روان دی . ډیره ښه بیلګي د حاکم منځلاري عدالت او پرمختګ ګوند بهرني او کورني سیاست دي . همداسي په عربي نړۍ کي د پان عربیزم لاروي اومنځلاري سیاسي اسلامي ګوندونه د خپلو ولسونو په چوپړ کي څنګ په څنګ ولاړ دي .
د دغي څیرني په پای کي دهنګتون تیوري په غبرګون کي باید ویلي شي ،چي ترکیه نشي کولي چي د اسلامي نړۍ منځړي هیواد شي لکه المان او فرانسه چي د اروپایي ټولني ماشین یا منځړي او مودل هیوادونه دي . څکه په اوسنیو سیاسي حالاتو کي عربي او نه عربي اسلامي هیوادونه به د ترکیه دغه رول سره مخالفت وکړي . زما په اند ترکیه کولي شي چي د ترکي ولسونو منځړي هیواد وګرځي .
ترکیه له افغانستان سره اوږدي تاریخي اړیکي لري . سېکولریزم د افغانستان اوسني حالاتو لپاره لکه دکمونیستي زهرجنو،ترڅو تجربو تکرار به وي . موږ افغانان باید افغانستان نوره د نویو پردیو ایډیالوجیو،سیالیو واردولو ډګر ونه ګرځو. موږ خپل لرغوني زوړ تمدوني افغانیت او دودیزه اسلامیت لرو . بې له شکه موږ د ترکي تاریخ او سولیزه بلهاریو څخه ډیر څه زده کولي شو.
په ډیره خواشینی سره باید وویل شي، چي په اسلامي نړۍ کي او نړیوال کلي ته په کتو سره د یو مخکښ ، منځلاري ،ولسواک او داسلامي قانون دولت ټولو ته دمنلو وړ اسلامي موډل دولت ځای لا تش دی .

---

لمنلیک او اخیځلیکونه :
( ۱ ) شینګن ترون : په ۱۹۸۵ کال دجون میاشتي په ۱۴ نیټه دشینګن ترون په لومړی ځل د پنځو هیوادو المان، فرانسي ،بلژیک ، لوګزامبورګ او هالند ترمنځه دګډو پولو د نه کنټرول په اړه دلوګزامبوګ هیواد د شینګن په ښار کي لاسلیک شو. د شینګن په ترون کي اوس داروپایي ټولني ۲۵ هیوادونه چي په کي د پولو کنټرول نشته او بي له ویزي تګ او راتګ کیږي غړیتوب لري . داروپایي ټولني دوه هیوادونه ایرلند او بریتانیه د ترون ځني مادي منلي دي .

(۲،۳ ) په ۱۹۲۲ ع کال د جولاي میاشتي ۲۴ نیټه د لوزانه ترون دسویس د اوښي په مانۍ لاسلیک شو . د۱۹۲۲ کال جګړه چي د یونان او ترکيي ترمنځه ترسره شوي وه .دترکیه هیوادګټونکي وپیژندل شو او د لومړي نړیوالي جګړي په پای لاسلیک شوی د زیورز ترون لغوه اعلان شو ،تر څو د ترکیه او یونان ترمنځه د ولسونو تبادله تر سره شي . د لوزانه ترون له مخي د ترکيي استقلال په رسمیت پیژندلو شو او ورسره له استانبوله د انګریزي پوځونو وتل پیل شول .

L. Carl Brown, International Politics and the Middle East, Princeton/N.J. ۱۹۸٤, S. ۱۷٦ ۴ )
Autoritativ hierzu Jacob M. Landau, Pan-Turkism, (Neuausgabe) Bloomington ۱۹۹٥. (۵)

Vgl. Günter Seufert, Laizismus in der Türkei – Trennung von Staat und Religion, Vortrag auf der ( ۶)
Konferenz


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په خیر و لولئ

der Schweizerischen Gesellschaft Mittlerer Osten und Islamische Kulturen, Basel, Okt. ٢٠٠٤; s.:
FAZ, ٠٣,٠٤,٢٠٠٤:„Der Islam ist moderat“ Fragen an den türkischen Religionsminister Mehmet Aydin ٧)
Autoritativ hierzu Jacob M. Landau, Pan-Turkism, (Neuausgabe) Bloomington ١٩٩٥. ( ٧)
Samuel P. Huntington, Clash of Civilizations, New York ١٩٩٦, dt.: Kampf der Kulturen ٨)Wien ١٩٩٦, Kapitel ٧ über den „Kernstaat“.
Vgl. Vatan, ١٧. ١١. ٢٠٠٨, S. ١/١٧ ( ٩ )
Akkaya et al., ١٩٩٨, S. ١٨٤ ،Ibid., S.١٨٤-٥ ( ١٠)
M. Hakan Yavuz, Islamic Political Identity in Turkey, London (Oxford University Press) ٢٠٠٣, S. ٦٥. ( ١١ )


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ